**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د جلیل القدر عالم، شیخ عطا بن خلیل ابو الرشته له لوري د هغه د انلاین پاڼو لیدونکو ته د ۱۴۴۴ هـ.ق (۲۰۲۳م) کال د نېکمرغه لوی اختر په مناسبت د مبارکۍ پیغام

(ژباړه)

**الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد...**

**الله أكبر الله أكبر الله أكبر، لا إله إلا الله، الله أكبر الله أكبر، ولله الحمد...**

ټول اسلامي امت ته ... تر ټولو غوره امت چې بشر ته راغلی دی؛ پر نېکو امر کوي او له بدو منع او پر عزيز او حکيم خدای ایمان لري...

په ځانګړي ډول دعوتګرو ته ... الله سبحانه و تعالی دې د دوی په لاسونو فتح راولي؛ الله سبحانه و تعالی دې دوی ته نصرت ورکړي چې اسلامي دولت، د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس کړي...

د انلاین پاڼو درنو لیدونکو ته چې دلته په خیر پسې ګرځي، د حقیقت په لټه کې دي او چلوونکو سره یې مرسته کوي.

دغو ټولو ته **السلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

د نېکمرغه لوی اختر د رارسېدو په مناسبت مبارکي درکوم او له قوي او عزيز رب څخه غواړم چې دغه اختر د ټولو مسلمانانو لپاره د خير او برکت پیل وي.

ګرانو وروڼو او خویندو! زه خپل سلام درته وړاندې کوم او ستاسو په حق کې د خير دعا کوم. له قوي او عزيز الله څخه غواړم چې دغه سختي، بلا او وبا له مسلمانانو لرې کړي او دغه مبارکه مياشت وروستۍ مياشت شي چې مسلمانان یې د اسلامي دولت- هغه دولت چې مسلمانانو ته عزت او جلال راوړي- په نشتون کې تېروي؛ بېشکه چې الله سبحانه و تعالی پر هر څه لاسبری او حکيم ذات دی.

**﴿رِجَا ل لا تُلْهِيهِمْ تِجَارَة وَلا بيْ ع عَنْ ذِكْرِ اللَّ وَإِقَامِ الصَلاة وَإِيتَاءِ الزَكَاة يَخَافُونَ يَوْما تَتَقَلَبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْ َبْصَار * لِيَجْزِيَهُمُ اللَّ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَا ب ﴾**

**ژباړه:** «داسې سړي دي چې سوداګري او راکړه ورکړه يې د الله له ياد، د لمانځه له ادا کولو او د زکات له ورکړې څخه نه غافل کوي. هغوی له هغې ورځې څخه وېرېږي چې په هغې کې به د زړونو د اوړېدو را اوړېدو او د سترګو د رډو ختلو وار راشي.* او (هغوی دا هر څه د دې لپاره کوي) چې الله د هغوی د ډېرو غوره عملونو مکافات ورکړي او لا زيات يې په خپله لورينه سرلوړي کړي. الله هغه چاته چې خوښه يې شي بې حسابه روزي ورکوي.» [نور: ۳۷-۳۸]

ستاسو ورور،

عطا بن خلیل ابو الرشته

د حزب التحریر امیر

۱۴۴۴ هـ.ق د ذولحجې ۱۰مه

۲۰۲۳م کال د جون ۲۸مه